د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**ښاغلی ادرین ادواردز د یوناما د اړیکو او عامه پوهاوی مشر**

**ډاکتر نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- د سپتمبر د میاشتی ۱۵ نیټه کال ۲۰۰۸*

## د ملګرو ملتونو په کاروان باندې برید/ د لوګر د والی وژنه

د ملګرو ملتونو په کاروان باندې د پرون ورځې برید او د شنبې په ورځ باندې د لوګر د والی عبد الله وردګ وژنه یو ځل بیا په افغانستان کې دغې سختې وضعې ته پام را اړوي چې ملګرو ملتونه په کې کار کوي.

اجازه راکړئ له دغې موقعې څخه په ګټه اخیستلو سره، چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړی استازی کای آیده او د ملګرو ملتونو د ټولو نمایندګیو په استازیتوب چې دلته کار کوي، د افغانستان خلکو ته ډاډ ورکوم چې ملګري ملتونه ژمن دي د هغو وګړو د اړتیاوو په پوره کولو سره چې خورا زیانمنیدونکي دي، د هغوي ملاتړ وکړي.

د سپین بولدک په برید کې زموږ په کاروان باندې برید د روغتیا د نړیوالې موسسې دوه ډاکټران او زموږ یو موټر چلوونکی ووژل. دا ووژل شوي وګړي د ژوند ژغورنې د فعالیتونو د سرته رسولو لپاره هلته تللي وو چې د افغان ماشومانو په منځ کې د پولیو د له منځه وړلو لپاره مرسته وکړي- دا هیواد په نړی کې د یوازې څلورو هیوادو څخه دی چې هلته لا دغه ناروغی شتون لري. د هغو کسانو لپاره چې د دغو شرموونکو بریدونو مسول دي، موږ یوه پوښتنه لرو: ولې؟

زه ستاسې پاملرنه هغو ویناګانو ته را اړوم چې د دغو بریدونو په باب د ملګرو ملتونه سرمنشی د ځانګړی استازی کای آیده او د ورغتیا نړیوالې موسسې د مشر پیټرګراف له خوا ورکړل شوي دي.

## په افغانستان کې د سولې کمپاین

دغه راتلونکې یکشنبه د سولې نړیواله ورځ ده چې په کابو ټولو ولایتونو کې د زرګونو افغانانو له خوا به په یو زیات شمیر پیښو سره ولمانځل شئ. په واقعیت کې، د هغې شخړې او تاوتریخوالی سره سره چې زموږ شاوخوا شتون لري، په ۲۰۰۸ کې په افغانستان کې د سولې کمپاین په پیاوړی توګه تر ټولو ستر کمپاین دی په افغانستان کی ادامه ومومئ.

د تیرې اوونی د پنجشنبې په ورځ، په افغانستان کې د ۲۷ مخکښو شغلو خاوندانو د سولې د دغه نوښت ملاتړ اعلان کړ. په هغو کې د کام ایر او پامیر هوایې شرکتونه، آشیانه، صافی لاند مارک هوټل او سویټس، کابل بانک، د سوداګری خونه، پښتني بانک، او الکوزی چای او نور شامل دي.

په ټول کابل او افغانستان کې به دوکانونه د راتلونکې اوونی په پای کې د خپل کارو بار مخې ته د سولې آبی بیرغونه ځوړوندوي. تعلیمي ځایونه د کابل پولې تخنیک او امریکایي پوهنتون په ګډون د دغه کمپاین ملاتړ کوي. د یو زیات شمیر انجوګانو شبکه خپل ځانګړی د سولې کمپاین پر مخ بیایي. مخابراتی کمپنی به خپل د ایس ایم ایس پیغامونه استوي. د ملي رسنیو موسسې د سولې پراخ پروګرامونه پر مخ بیایي.

د سولې فعالیتونه له هلمند څخه تر جلال آباد او مزار پورې سرته رسیږي. په بامیانو کې موږ د یک شنبې په ورځ د ماین پاکولو د یوې سترې پیښې د اعلان هیله لرو. د کندز ښار اوسیدونکي هغه سړک د سولې سړک په نوم نوموي چې په هغه باندې درې ځان وژونکي بریدونه پیښ شوي دي. په کندهار او خټیځو ولایتونو کې ستر شمیر ورزشي لوبې ترسره کیږي. په مزار او هرات کې به زرګونه خلک سره راغونډیږي. زموږ په نظر د سولې د ورځې لپاره د فعالیتونو کچه بې ساري ده. په راتلونکې اوونی کې به له افغانستان څخه د دغه هیواد هڅې په هغه کانسرت کې وښودلې شي چې د لندن په البرت هال کې د یوې ورځې د سولې د موسسې او نورو اړونده نړیوالو نامتو اشخاصو له خوا دایریږي.

## د بشري قاچاق سروې ناوړه ګټه اخیستنه مستند کوي او د عمل وړاندیز کوي

تیره اوونی په افغانستان کې د انساني قاچاق کولو یوه ساحوی سروی د مهاجرت د نړیوالې موسسې له خوا سرته ورسیده. دغه څیړنه په افغانستان کې له دې هیواد څخه او دې هیواد ته د قاچاق کولو پدیده په ژوره توګه

تحلیل کوي، د لومړی لاس د هغو شواهدو پر بنا چي په عمده توګه له هغو ځانګړو مرکو او ساحوي سروی څخه راټول شوی وو چي په کابل او نورو نهو ولایتونو کي سرته رسیدلي دي.
دغه موندني به له افغانی وزارتونو او نورو شریکانو سره شریک کړي شي چي د راتلونکی قاچاق ضد اغیزناکی ستراتیژی منځ ته راوړل شي. دا د لومړنی هڅي نمایندګی کوي چي له هومره پراخ شمیر قربانیانو، او فعالانو سره مرکه وشي او په افغانستان کي د بشري قاچاق په هغه لومړنی رپوټ باندي یوه مهمه برخه ور زیاتول دی، چي د مهاجرت د نړیوالي موسسي له خوا په ۲۰۰۴ کي خپور شوی و.

دغه رپوټ مجبورونکی لاملونه او د قاچاق شوو قربانیانو دیموګرافیکی نخښي تر بحث لاندي نیسي، د عمر، جنسیت، اصلی ځای، او تعلیمی سابقه له قاچاق شوو کډوالو او د تېښتنوي له قربانیانو سره په مقایسي سر تر بحث لاندي نیسي. دغه رپوټ همدارنګه د قاچاق میتودونه او د نظر وړ یا منزل مقصود ځایونه هم تحلیلوي.

دغه رپوټ همدارنګه د کلیدي قاچاق ضد شریکانو دریځ ته هم نظر اچوي، په خاص ډول د افغانستان دولت ته د دې لپاره چي برياوي وپیژني او د مخنیوي، قانوني پلي کولو او د قربنیانو د ساتني په ساحو کي خلاګاني تشخیص شي. همدارنګه د دغي ستونزي د له منځه وړلو لپاره لند مهاله ترمنځ مهاله پوري وړاندیزونه هم کوي.

## د غزنی ولایت لپاره نوی ښوونځي

په دې وروستیو کي د غزنی په ولایت کي د ښوونځیو دوه نوي ودانی د یونیسف له خوا بشپړې شوې دي.
دغه ښوونځي د امام قیوم لیسه ده چي شپږ ټولګیزه ودانی ده د ۸۱۹ زده کوونکو لپاره او د دولت خان لومړنی ښوونځی چي پنځه ټولګیزه ودانی ده. د دوارو ودانیو لګښت ۳۸۳،۸۹ امریکایي ډالر شوی دی. له ۲۰۰۶ راهیسي یونیسف په غزنی ولایت کي د ۱۶ ښوونځیو د ودانولو ملاتړ کړی دی.

## پوښتني او ځوابونه

**د آزادی راډیو:** د سولي په ورځ کوم سازمانونه کومي چاري پر مخ بیایي او ملګري ملتونه په خپله کوم کارونه کوي او هم له خلکو څخه د کومو کارونو د ترسره کولو تمه لري؟ د پاکستان د کډوالو په هکله چي د قمبر د ځلور لارې په شاوخوا کي لیدل شوی، څه ډول مرستي کیږي؟

**یوناما، ایډرین اډوارډز:** د هیواد په کچه د خاصو فعالیتونو په اړوند یو شمیر سازمانونه برخه لري، موږ د دې سازمانونو لست په اختیار کي لرو او موږ به دا لست ستاسو حضور ته وړاندي کړو. د ملګرو ملتونو د چارو په هکله باید وویل شي چي دا سازمان یو شمیر چاري پر مخ بیایي او موږ د خپلو شریکانو سره د ګډي همکاری له طریقه خلک د یو ډول کار د ترسره کولو لپاره هڅو دا یوازی د ملګرو ملتونو کمپاین نه دی دا زموږ او تاسو د ټولو دنده په دی هیواد کی ده. لکه څنګه چي تاسو پوهیږي یو شمیر سازمانونه د رسني په کارولو سره یو شمیر پروګرامونه خپروي. هر څوک او هره اداره دا ظرفیت لري چي په دې ورځ یو څه ترسره کړي.

تیر کال موږ ولیدل چي ځینو ټولنو خپلي کوڅي پاکولي او خپل کورونه یي رغول، کیدای شي دا په دې مانا وي چي د خپل کور او ګاونډي لپاره څه وکړي. دا کار پخپله د کس څخه پیل کیږي. موږ غواړو چي زیات شمیر خلک په دې کار کي ګډون وکړي او وښیي چي د سولي غوښتونکی دي.

تاسو ښایي په یاد ولري چي د سولي د ورځي پر مهال تر کال نږدې ۱،۵ میلیونه ماشومان د واکسین د کمپاین پر مهال واکسین شول. تاسو به په دې هکله د رواني اووني په ترڅ کي نور اطلاعات هم تر لاسه کړئ.
ملګری ملتونه د ماین پاکولو په چارو کي هم برخه لري او په دې هکله به د بامیانو د ولایت په هکله د یکشنبي په ورځ یو خبر خپور شي. ستاسو د معلوماتو لپاره باید وویل شي چي په دې هکله په کابل کي هم یو شمیر فعالیتونه لاري ته اچول شوي دي.
د سولي د ورځي تر موضوع لاندي د کارتون ایستلو یوه ننداره هم په نظر کي نیول شوي او افغان کارتون کښونکی په کي برخه اخستي او همدارنګه زموږ د سیمه ییزو دفترونو له خوا څخه هم ځیني فعالیتونه ترسره شوي دي.

د دې کمپاين موخه څه ده؟ موږ د خلکو څخه څه غواړو؟ د دې کار موخه دا ده چې د هغو کسانو غږ واوري چې سوله غواړي او موږ فکر کوو چې د سولې لپاره غوښتنه زياته ده.

**يوناما، نيلاب مبارز:** ستاسي د پوښتني د دوهمې برخې په اړه زه کوم معلومات نلرم، خو کيدای شي چې د کنفرانس په پای کې د يو ان ايچ سی آر د دفتر کارکوونکی دې پوښتني ته ځواب ووايي.

**افغانستان ټايمز:** د سولي د ورځي لمانځل په هيواد کې يوه نوې پديده ده او زيات خلک لدې پديدې سره اشنايي نه لري، دا به په افغان وګړو څه اغيزې ولري او تاسي د هغو خلکو څخه څه تمه لرئ چې په اوس حال کې په جنګ بوخت دي؟

**يوناما، ايډرين اډوارډز:** زموږ څخه کله پوښتنه کيږي چې تاسو ولي په داسي يوه ستونزمن چاپيريال لکه افغانستان کې د سولي کمپاين لارې ته اچوئ؟ د دې پوښتني ځواب ډير اسانه دی. دا ډيره ښه ده چې په داسي يوه هيواد کې چې هلته جګړه موجوده وی کمپاين لارې ته اچول کيږي او نه داسی چې هلته لا د مخه سوله موجوده وی.
د افغانستان په څير يو هيواد کې د داسي کمپاين لپاره زياتي ستونزې موجودې دي. خو دا د ملګرو ملتونو يو کمپاين نه دی، په دې کې موږ او تاسي ټول په يوه اندازه ښکيل يوو. دا هغه يو کمپاين دی چې موخه يې د هغو خلکو د اواز اوريدل دی چې د سولي غوښتونکی دي. که چيرې تاسو څو اونی وړاندې زموږ په کنفرانس کې حضور درلودلای، نو تاسو به د هيواد د هڅو په هکله اوريدلي وای ترڅو د سولي لپاره کمپاين په لاره واچوي او د سولي فرهنګ رامنځ ته کړي، او حتی دا چې شخړه د يوه نړيوال فلم موضوع هم وه چې د کينيس په فيسيتوال کې ننداري ته وړاندې شو. موږ په دې باور يو چې دا هڅې کيدای شي د نورو هيوادونو لپاره چې د شخړو څخه متاثره دي هم يوه بيلګه شي.

**افغانستان ټايمز:** زما د پوښتني دوهمه برخه؟

**ايډرين اډوارډسن:** موږ ټول به خوښ اوسو چې هغوي ټول هم جګړه بنده کړي. د ۲۴ ساعتو د سولې موخه په روښانه توګه د ملګرو ملتونو د عمومی اسامبلی په دوو پريکړو کې چې د هغو په ترڅ کی د سولې ورځ منځ ته راغللی ده، واضح ده. د دی پريکړو شميری دی ۳۶/۶۷ په ۱۹۸۱ او ۵۵/۲۸۲ په ۲۰۰۱ کی

**بی بی سی:** داسي راپورونه شته چې په افغانستان کې د ايراني وسلو يادونه کوي، دغه راپورنه د طالبانو د يو قوماندان له خوا او د بريتانوی ځواکونو له خوا تائيد شوی دي، په دې اړوند د يوناما دريځ څه دی؟

**يوناما، ايډرين اډوارډز:** زه افسوس کوم چې په دې اړه مشخص معلومات نه لرم چې هغه له تاسو سره شريک کړم.

**د نګاه تلويزيون:** تاسي د سولي د ورځ د لمانځني په اړه خبرې کوئ او حال دا چې امنيتي وضعيت د اوس مهال په پرتله درې څلور کاله مخکې ډير ښه وو. لکه څنګه چې امنيتي وضعه مخ په خرابيدو ده، ايا تاسي فکر نکوئ چې دا به د نړيوالي ټولني ناکامي وي؟

**يوناما، ايډرين اډوارډز:** د امنيتي وضعه خرابيدو تر ډيره حده پوري د ياغيتوب سره اړه لری چې غواړی دولت تر پوښتنی لاندی راولي. لکه څنګه چې تاسي هم پوهيږئ، د نړيوالي ټولني او د هغي ملګری افغان حکومت ستراتيژي تل تر څارني لاندي ده. که تاسي د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي صلاحيتنامي ته وګورئ چې د يوناما پر ويبپاني د لاسري وړ ده، تاسي به په دې پوه شئ چې په هر کال کې په دغه صلاحيتنامه کې تغييرات رامنځته کيږي ترڅو صلاحيتنامه هغه موجوده واقعيتونه او ننګوني وغبرګوي چې مونږ يې په غاړه اخيستې ده. او همدارنګه که تاسي پاريس کنفرانس او هغي پايلي ته وګورئ تاسوته به معلومه شي چې د اوسني وضعيت د اداره کولو لپاره راز راز نوی کړنلاری رامنځته کيږي.

**کليد ګروپ:** په دغه حال کې چې امنيتي وضعه مخ په خرابيدو ده، مونږ ګورو چې د سولې د ورځ د لمانځني لپاره هلي ځلي رواني دي. آيا تاسو جګړه مارو ډلو په دې قانع کړې چې دوی دې دغې ورځې ته درناوی

وکړي؟ آیا د طالبانو نه پرته تاسي د ایتلافي قواوې نه چي پخپلو تېرو حملو کي ملکي خلک یې وژلي دي هم غوښتنه کړې چي نوموړي اوربند ته غاړه ايږدي؟

زما د پوښتني دوهمه برخه آغلي نیلاب ته متوجه ده. قبایلي مشران ګواښنه کړي چي که چېرې ایتلافي قواوې د پاکستان په قبایلي سیمو کي خپلو برېدونو ته دوام ورکړي، دوی به کابل ښار تر حملي لاندې راولي. په دي اړه به د ملګرو ملتونو دریځ څه وي؟

**یوناما، ایډرین اېوارډز:** مونږ پوهېږو چي دواړه طالبان او ایتلافی قواوې له دې کمپاین نه خبر دي. لکه څنګه چي مي وویل دغه کمپاین د ملګرو ملتونو کمپاین نه دی – مونږ دنده لرو چي د ټولنو په منځ کي اګاهي او خبرتیا راولو، خو د سولي لپاره اراده یوازې زمونږ له خوا نه راځي. دغه اراده به ستاسو له خوا او په افغانستان کي د ټولنو د هریو غړي له خوا جوړېږي. مونږ په دې عقیده یو چي د سولي غږ باید واورېدل شي،

**یوناما، نیلاب مبارز:** تاسي پوه یاست چي یوناما د افغانستان په دننه کي کار کوي، او د افغانستان حکومت د یوې ملاتړې پلاوې په حیث دغه حکومت ته په خپل ملاتړ دوام ورکوو. او دسولې لپاره ملګر و ملتونو دا پوښتنه مطرح کړې چي د سولي په ورځ کي به تاسي په افغانستان کي څه کوئ؟ او دا یوه ډېره ژوره پوښتنه ده.

**پژواک:** زما پوښتنه د نړیوال مهاجرت د سازمان د انسانانو د قاچاق د رپوټ په اړه ده. آیا تاسي د انسانانو د قاچاق د کمښت په اړه کومې ښمېرې څرګندولای شئ؟

**یوناما، نیلاب مبارز:** د انسانانو د قاچاق د ترسره شوی سروې په اړه، ویلای شو چي دا یوه ساحوي سروې ده او ښایي چي په افغانستان کي ترسره شوې یوازینۍ ژوره سروې وي. هغه کتابګی چي تاسي دلته مومئ د نوموړی رپوټ په اړه ټول معلومات رانغاړي. دغه سروی په کابل، او نهه نور ولایتونه لکه خوست، ننګرهار، هرات، بلخ، فاریاب، کندز، بدخشان، کندهار، او فراه ولایتونو کي غځول شوی چي د ۲۰۰۷ د جولای او ستمبر په منځ کي ترسرهه شوه. ۲۲۰ خایی معلومات ورکوونکي، او ۴۳ د تېښتوني قربانیان او ۱۹ قاچاق شویو مهاجرینو سره مرکي ترسره شوي دي.

دغه سروې شمېرې او همدارنګه د افغان حکومت په مخکي د شته ننګونو په اړه یو لړ سپارښتني هم رانغاړي، سره له دې چي بریالیتوبونه یې هم څرګند کړي دي.

دغه ډېر زر به په دري او پښتو ژبو کي هم تیارې شي، او کېدای شی د نړیوال مهاجرت سازمان سره په همکاری به یوه ځانګړې مطبوعاتي کنفرانس د نتیجې په اړه جوړ شي.

**ای ایف پي:** د روغتیا د نړیوال سازمان په هغو کارکوونکو باندې د مرګوني برید اغیزه به څه وي چا چي د ګوزن د ناروغی پر خلاف د واکسین په کمپاین کي ستاسي په همکاری ګډون درلود؟ آیا تاسو به خپل فعالیت ودروئ او که خپلو هڅو ته به دوام ورکوئ؟

**یوناما، اېډرین اېوارډز:** سږکال تر اوسه پوری د هغو شمیرو له مخي چي د انسو څخه تر لاسه شوي دي د تیرې ورځي د پیښي څخه بغیر د سږ کال په جریان کي په افغانستان کي د نړیوالو او کورنیو مرستندویه کارکوونکو د مړیني شمیره ۲۴ ته رسیږي، کله چي یو مرستندویه کاروونکی وژل کیږي هغه په هغه بشردوستانه ډګر باندې ډېره زیاته اغیزه کوي چیرته چي موږ رسیدنه غواړو. په دې توګه موږ هغو ساحو ته نه شو رسیدلای چیرته چي زموږ کارکوونکی وژل کیږي. په دې توګه کله چي روغتیایي کارکوونکی وژل کیږي نو چا ته تاوان او صدمه رسیږي؟ زه فکر کوم تاسو د دې پر ځواب پوهیږئ چي هغه ماشومانو ته صدمه رسیږي چي هغوی ته باید واکسین وشي او جوته ده چي د قربانیانو کورنی. په دې توګه دغه شان یوه اغیزه لري او موږ باید واقعیت بین و اوسو او په دې حقیقت پوه شو. د دې کمپاین سره د سولې د کمپاین لپاره خنډونه شته. موږ باوري یو چي دا باید مخ ته ولاړ شي. په دې اوونۍ کي د پنجشنبې په ورځ به د ورغتیا د نړیوال سازمان او یونیسف ګډ مطبوعاتي کنفرانس د ګوزن پر خلاف وي دا زیاتوم چي د دې پلاوی هیله دا ده چي زموږ د همکارو قربانیانو د لا درناوي غوره لاره دا ده چي خپلې هڅې دوه برابره زیاتي کړو.